محمد اياز نوري آزادي ۲۰۱۹/۰۱/۲۰

# ګران افغان شخصيت فدا محمد خان نومير ته

تاسو جناب د افغان جرمن د ويبپاڼې د نظرياتو په کړکۍ کې ۱۴ د جنوري زما د مقالې په ارتباط «د ۱۳۰۷ ل کال د جدي ۲۴ لکه د ملي ماتم ورځ» منتشره هلته، دغه تبصره ليکلې ده:

اسم: فدامحمد نومير   محل سکونت: جنوبي کلفورنيا-متحده ايالات   تاريخ: 14.01.2019

بسم الله الرحمن الرحيم ط
ډيرمحترم او عزيز اياز نوري صاحب.
السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.
په قلم دې برکت سه . کومه بدمرغه نيټه او بدمرغه پيښه چې تاسو محترم يې د ليکنې په ترځ کې يادونه کړې ده . او ياد تازه کول دې يې غوښتي دي . افسوس هغه غوړونه چې واوري ، هغه سترګې چې وه يې لولې او هغه زړونه چې پيښې او واقعيتونه درک کړي په شميرکم دي. که نه نن بايد حد اقل دموضوع په هره ويبپاڼه کې دوې او درې ليکنې دتاريخپوهانو او تاريخ څيړونکو له لوري ليکل سوي واى .او دتاريخ تور او سپيره مخونه يې رسوا کړي واى . په هرصورت لمريه دوو ګوتو نه پټيږي . د هرڅا تر ليکنې ستاسو محترم د ليکنې ارزښت او بها ډيره ده. الله جل جلاله دې يار او مددګار ووسه.
دا افغان ځوانان دي، چې پخپله خوښه په جلال آباد ښار کې د غازي مرحوم امان الله خان قبر ته د ارادت او دعا لپاره ورغلي.

تاسو جناب ته عرض وکړم، چې دا يوه مياشت مخکې ۱۵ د دسمبر ۲۰۱۸ز کال د ماښام مل وه، د فون ګوشي مې راواخيستله او لکه يو ملي دنده غوښتل مې د مشر غازي مرحوم امان الله خان د لور احوال واخلم. د جنابې استوګنځي استانبول د ترکيې ته مې فون وکړ. د خبرو په پای کې پاچا لور ووېل، "په افسوس، چې د افغانستان اوضاع ډيره غمجنه ده، زما پلار افغانستان ته مفيد او بهتره وه. زما پلار بې ځايه او بې وخته ضايع شو...! ما ورته عرض وکړ، بلی، ۱۴ د جنوري ۱۹۲۹ز کال مونږ د افغانستان خلکو غازي امان الله خان له لاسه ورکړ. "
د خبرو د ختميدو څخه پس د پاچا لور ناجيه صاحبې دغه د (ضايع کېدو) کلمې په فکر کې ډوب کړم او د دغه ورځې هجري لمريزې نېټې ۲۴ د جدي ته متوجه شوم، فکر مې وکړ يوه مياشت ورته وخت لرم، بايد د دغه لوئې کرغيړنې نېټې په مناسبت يوه تحليلي مقاله افغان ولس ته تقديم کړم.
عزتمند نومير صاحب! ستاسو د پورتنی لنډې او په مفهوم ژورې تبصره څخه زه احساسوم، چې زما تحليلي مقاله مو د هېواد ګران افغانستان د سياسي استقلال د باني غازي امير امان الله خان د وياړمن دولت د سقوط په هکله، شه په غور سره لوستلې ده. بالمقابل زه تاته هم د يوه امانيست زوی په سترګه ګورم دا، چې ستاسو په بدن د هغه ملي اتل جرنيل يار محمد خان وزير وينه چليږي. ستا په قلم او دماغ دې هم برکت اووسي. تاسو ۲۴ د جدي ۱۳۰۷ هجري لمريز کال ورځ ته د بد مرغه پيښې خطاب کوئ، په تحقيق سره، چې په هم دغه ورځ د ګران زعيم غازي پاچا امان الله خان مستعفي کېدل د افغانستان د بادشاهی د مقام څخه او بيا د هغه جناب تبادله د يوه نا لوستي، مجهول الهويه او عجيبه اوغريبه څېرې په نوم دې (حبيب الله سقاو زوی) سره پخپل مضمون او ماهيت کې يوه تاريخي غميزه بايد وبلل شي. د موضوع د ملي اهميت په اساس دا نېټه بايد هر کال د (ملي ماتم) د ورځې په توګه ولمانځل شي. بد خو پرېمانه دي، شه له کومه کوئ. نن د هغه زماني څخه دغه ده، پوره (۹۰) کاله تېرېږي او په دې زماني تېر شوي بهير کې مونږ د افغانستان ولس سقاوي، نادري، کمونيستي، اخواني، طالبي او اسلامي ټکنوکرات حکومتونه تحمل کړل، لاکن افغانستان او خلک ئې د يوه سوکاله په هر لحاظ ژوند ته ور داخل نشول او علاوتاً د ۱۳۵۷ هه ل کال څخه تر نن پورې وسله واله جګړه هم د افغانانو تر منځ د خارجيانو په مخامخ او غير مستقيمي مداخلې سره روانه ده. نن د افغانستان خلک د نسبيت د تئوري پر بنسټ هغه (۹۰) کاله پخوا اماني دولت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او د هغه وخت د پاچا د لس کلن لنډ دور د ملي پر مختګ کچه د وروستیو رژیمونو سره پخپل آزاد قضاوت سره پرتله کوي او خپل مستقل حُکم صادروي او نن د افغانستان د ملت غوڅ اکثریت د اماني آزاد دولت او زعیم ئې امان الله خان ارمان کوي. غازي پاچا امان الله خان نه آژدهار وه، نه کومه پرښته وه، بلکې یو انسان وه، د خپلو ښو صفاتو تر څنګ ئې خپل عیبونه او غلطی هم لرلې. البته هر افغان دا مُسلم حق لري، چې په اماني دولت او لاربنود ئې خپل انتقادونه هم ولري او د هغو نیمګړتیاوو څخه دقیقه نتیجه او عبرت واخلي. ماته لکه یو مستقل افغان وګڼړئ، چې د لیسانس تر کچې مې د خیل مظلوم ولس د مالیې څخه زده کړې ده، یو ملي مکلفیت ښکاري، چې د هغه څه چې ماته تاریخي حقایق ښکاري، خپلو خلکو ته ورسوم، ځکه زه د غازي پاچا امان الله خان په داسې شکل له منځه تلل یوه لویه خاینه پیښه او د افغان ملت لویه بد مرغي بولم. تاسو پخپله تبصره کې د دغه ورځې د ملي اهمیت ته په عمیق پام خپله ګیله د افغان خصوصاً لیکوالانو او افغاني مختلفو رسنیو څخه لیکلی ده، چې هغوی باید په دغه ورځ د خپلو امکاناتو برابر یوه یادونه کړې وای، بلی زه هم افسوس کوم او له بلې خواء زما په فکر دا مسله باید په نظر کې ولرو، لومړی دا، چې غازي امان الله خان خصوصاً پس له سقوط د دولت څخه ئې نهه میاشتې د سقاوي حبیب الله خان د حاکمیت له خواء (د دین د مخرب) په توګه شدیداً تخریب شو او بیا د مکار نادر خان په څلور کلن او ۴۰ کاله د ظاهر خان په حاکمیت کې هم د خلکو په اذهانو کې د کافر په توګه پسې تخریب شو او حتی چا د استقلال د جشن د سنبلې په لومړی نېټه د غازي امان الله خان نوم د استقلال د سروال په توګه نشو اخستلای او که کوم افغان دا جرأت کاوه او دغه نوم ئې ذکر کاوه بندي کېده لکه افغان ګران مبارز شخصیت حبیب الله خان رفیع. د خپل اماني احساس په باب عرض وکړم، چې لکه ته نومیر صاحب، چې د هغه اخلاصمند رښتیني امانیست جرنیل یار محمد خان سره لوی او تربیه شولې او بیا دې د هغه ارجمند مجاهد شخصیت د ژوند خاطرې او کارنامې د یوه کتاب په شکل (د افغانستان د خپلواکۍ او نجات تاریخ) ترتیب او تنظیم کړي دي، زه هم د یوه پلار سره لوی او تربیه شوم، چې د غیرت او وطن دوستی، زړه سواندي، اخلاص او تواضع په وسله سمبال وه. زما په یاد دي دا د ۱۳۴۹ هه ل کال د سنبلې د میاشتې پیل ته ورنژدې او د استقلال د جشن؟ د لمانځل کېدو وخت رانژدې کیدو. مونږ د کابل د قلعچې په سیمه کې په یوه ختین کور کې اوسېدلو. زه هغه وخت ۱۱ کلن وم. افغان دشمنه ظاهر شاهي دولت به هر کال د جشن د ورځې مخکې د مرکزي قول اردو د زغره والو د قطعاتو څخه د دیرشو (ت ۵۵) ټانکونو په شمېر عسکري تیاری او تمرینات د قلعچه بیني حصار په پاخه سړک اجراء کول. پاچا او حکومتي مسوولینو ئې دومره فکر نه کاوه، چې دغه هره شوبله ۴۰ ټنه دروند والی لري او دغه قیر سړک په دغه فقیر ساتل شوي هېواد کې خو برباد کوي، بس هغه سړک به هر کال ټوکر ټوکر د دغو ټانکونو د زنځیرونو څخه پاتې شو. د جشن مراسمو ته نژدې په نوموړي کال زما پلار موجوده حاکم شاهي خاندان څخه خاص د نفرت او انزجار په رسم مخکې له دې، چې د تقاعد قانوني سن ئې پوره کړئ وي د عریضې په ذریعه ترک د دندې وکړ او خپل تقاعد ئې واخیست. داسی یو اقدام به د افغان هغه وخت د اردو د منسوبینو په کتار کې شاید نادر او یا بیخي نه وي شوی. پس له دغه اقدام څخه د هغه مختلف ملګري خصوصاً عسکري به زمونږ کورته راتلل او زما پلار به ئې پوښته، او نورالله خانه دا ولې؟ داسی آرامه وظیفه او مقام تا پرېښودو آخر ولې؟ زما پلار به ورته ویل، «تاسو، چې د چوکی او مقام شوقیان یاست، دوام ورکړئ، زه نوره نه غواړم دغه دولت او خاندان سره مادون اووسم، تاسو دا د وطن بد بختي، لوږه او بی سوادي او د خلکو فقیر او بیچاره ژوند ته ځیر شئ، افغانستان د زراعت لپاره یوه شه مساعده خاوره لري، لاکن دا ظالم او له عقدو ډک خاندان عمداً نه غواړي خلکو ته کار وکړي. زه د افغانستان آینده شه نه وینم.» زما پلار لکه، چې د سرطاني او ثوري عسکري کودتاګانو د راتګ څخه، چې خبر وي. د جشن ورځې په جریان کې وې، زمونږ کاکا هم له خوست څخه راغلی وه. غرمه وه د ډوډی نه پس زما مشر ورور استقلالي خټکی تیار کړ. زما تره زما پلار ته وویل: شه لیوامشره، ځان دې له عسکري وظیفې څخه خلاص کړ!
زما پلار خطاب خپل ورور او مونږ اولادو ته وویل: زه نن ډیر خوشال او خپل خدای ته شکر ګذار یم، چې په یوه نیکنامی له دغه بیکاره عیاش، بی رحمه شاهي خاندان او دغه حکومت څخه را ګوښه سوم. ما د خپل ۳۵ کلن عسکري خذمت په بهیر کې خیانت نه دئ کړی، د عسکر او مادون څخه مې رشوت نه دئ اخستی، ما د عسکر او مادون سره ظلم نه دئ کړئ. زما وروره او زما زامنو ما تاسو ته کوم بد نوم نه دئ پریښئ، چې تاسو پرې خجالت وباسئ. زما تره سره د له دې چې بی سواده کس وه، خفه معلومیده او زما پلار ته ئې وویل، وروره، په تقاعد اخستلو دې خفه شوم اما دا، چې دا پاچا او خاندان سره ډیر په تنګ شوی وې درسره موافق یم دا خاندان دغه ده اوږده کلونه پر مونږ حکومت کوي، لاکن دوی د افغانستان خلکو ته مخلص او خذمتکار نه دي، مونږ د پکتیا ولس دغه خاندان ته د سقاو څخه بادشاهي ونیوله، لاکن لا تر اوسه پکتیا ډېره خواره او خلک ئې په ګېډه ماړه نه دي. زه هم د وطن او ولس حالات شه نه وینم.زما پلار دوه مشخصې جدي ورسره لرلې. یو ئې سپی په کور کې نه پرېښود او بل ئې ځوړند عکس هم په کوټه کې نه پرېښود. اما هم هغه کال د جشن پر وخت زمونږ کوم نژدې خپلوان د غازي امان الله همدغه د سرې کرتی عکس راوړی وه او زما مشر ورور هغه زمونږ په میلمه پاله کوټه کې په دیوال کې وځاړوه. کله، چې زما پلار د مشر غازي انځور ولید، ورته ودرید یوه شیبه ورته دقیق شو، بیا ئې مونږ ته وویل، دا د غازي امان الله خان عکس به همدلته ځوړند ساتی. ما لیکونکي به دا ځانګړی جذاب عکس ډېر کوت



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

او ډېر به خوندور راته تمامیده، پلار به مې پوښت، جې دا امان الله خان څوک وه او دا غازي څه معنی لري؟ پلار به ډېر د عکس په لیدو ورته ودریده او په ډېره خوشالي او یو دروند والي به ئي ویل، بچیه دا غازي پاچا امان الله خان دئ او غازي ځکه ورته وائي، چي زمونږ آزادي ئي د انګریز څخه راته اخستي وه. د عسکري دندي څخه په مصتعفي کیدو زما پلار آرام نه کیناسته، پخپلو صمیمی ملګرو به ګرد ګرځېده او هغوی به هم کورته ورته راتلل. بلاخره هغه او ملګرو ئي یو پټ حرکت جوړ کړ. زما پلار به ویل، پکتیا ته به ځو، قامونه به راواغواړو، هغوی ته د حاکم نادري خاندان ټول ملي خیانتونه بیان کوو، هغوی باید متحد کړو او بیا د هغوی د مجموعي څخه یو ولسي جنګي لښکر جوړوو او پر مرکز کابل به وسله واله حمله کوو او دا پاچا او خاندان به له منځه وړو او یو سوچه ملي افغان دولت به جوړوو، چي شپه او ورځ د خلکو په خذمت کي وي. د دغه حرکت دوه غونډېږ زمونږ په کور قلعچه بین حصار کي تر سره شولي. اما دا غورځنګ د یوه غړي د یوه سبوتاژ له کبله د ناکامی سره مخامخ شو. ماته جالبه ده، چي زما پلار د نادري او ظاهر شاهی د اردو یو مهم بنستوال او استاذ پاتي شوی وه، لاکن هغه د عسکري کودتا کولو نوم نه اخیسته او مکرر به ئي د پکتیا قامونه یادول.
د سردار داود خان په درواغو جمهوري پنځه کلن دور کي د امان الله خان د نوم د راژوندي کولو لپاره کوم د پام وړ کار ونشو. ما د غازي امان الله خان د لور څخه وپوښتل، چي د سردار داود خان په پنځه کلن حکومت کي هغه تاسو د امان الله خان اولادونو ته په پلارني وطن کي د اوسیدو بلنه درنکړه؟ هغي وویل، نه نه هیچ، هیچ، داود خان از ما دعوت زندگی در افغانستان را نکرد. (پاچا لور اندیا ما لیکوال سره مخامخ خبري، اګسټ ۲۰۰۸ز کال روم ایټالیا) د ثور ۱۳۵۷ هه لمریز کال څخه پس هم هغه کین فکرو رهبرانو لومړی ځان غازي امان الله خان ته مخلص ښوده اما پسته، چي د خپل حکومت ډېر تړلوالی ئي د روس سوسیال استعمار څخه زیان مند ولید، نو ځان ئي د غازي امان الله خان سره په مخالفه موضع کي وموند او هغوی هسي د غازي امان الله خان د لوی نوم څخه ناوړه سیاسي استفاده کوله. همدلته باید ذکر کړم، چي پاچا لور اندیا (د افغانستان) ماته وویل، چي ولسمشر نور محمد تره کي د ۱۳۵۷ل کال په پیل کي مونږ د اماني کور د هغه وخت ژوندیو غړو ته خبر راکړ، چي که آرزو لری نو هېواد ته راتللی شئ او دلته اوسیدلای شئ. لاکن مونږ د غازي امان الله خان اولادونو فیصله وکړله، چي نه مونږ باید د کمونیستي حکومت تر حاکمیت لاندي افغانستان کي ژوند ونکړو. (پاچا لور اندیا زما لیکوال سره مخامخ خبري. اګسټ ۲۰۰۸ کال روم ایټالیا) غازي پاچا امان الله خان د اخواني او نورو جهادي تنظیمونو له خواء میشته په پاکستان کي هم د ملحد په نوم تخریب سو او پس له ۲۰۰۱ز کال د اکتوبر څخه، چي د ناتو جنګي سازمان پر افغانستان حمله وکړله، په دننه د هېواد افغانستان او بهر کي د یو شمېر افرادو او محقیقینو په ذریعه د پاچا امان الله خان د ربښتیني شخصیت د را برسیره کولو لپاره کار وشو، چي زه ورته یو پیل وایم. البته دا لړی به ورو وي. ما پخپله ورستی لیکنه کي هم ولیکل، چي زمونږ نسل به نه وو او شاید نور لا هم ورپسي...! خو بیا هم نومیر صاحبه، زه ستاسو په شکایت او افسوس کي شریک او موافق یم، چي مونږ نن په افغاني چاپېریال کي په بهر او داخل د افغانستان کي په لوی کمیت کي منور افغان نارینه او ښځي لرو، موضوع ما د یوه افغان په حیث د یوي مقالي په ذریعه یاده او میدان ته واچوله، اما دغه لوستو افغانانو حتی د یوي لنډي تبصرې او کومنټ زحمت هم د غازي اعلیحضرت امان الله خان د ضایع کېدو په مناسبت ځانته نه ورکوي. په هر حال ئي، زه ستاسو د فرمایش تائید کوم، چي لمر په یوه ګوته نه پټېږي، حقیقت آخر خپل ځای نیسي...! د حقیقت د لارې پلویان افغانان باید په دې لاره کي هر ډول کړاو ته سینه سپر کړي. ستاسو د تبصرې د پای ټکی ماته یو قوت د زړه راکوي، چي تاسو زما لیکنه په ډېر ارزښت ارزوی. زه هم تاته همدغه دعا کوم، چي الله (ج) تل مل او یار اووسه.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ